

# د Centrelink د مراجعینو سره مرسته کول چی کار ترلاسه کړي

Helping Centrelink customers get work—**Pushto**

## خا ص پا ملرنـه مسلـک او کـار تـه

Centrelink په دی پوهـه ده تر څـود کـار مـوندلـو په هـکله تـا سـو سـره ښيي مـرستی وکـړی. کا ر کول یواځی تا سو ته پیسی نه راولی چی خپل فا میل وروزی او یا ژوند وربا ندی وکړی بلکه تا سو ته ښه احسا س دربښی او په دغه ټو لنه کی چی ژوند کـوی مـرسته کـوی.

## تاسو ته ضرور ده چی په فعاله توگه د کار پسی وگرځی

که تاسو Centrelink نه پیسی اخلی او د 16 نه تر 65 کلو پوری عـمر لـری نو ښـا يې چی د فعا لیتونو د برخی اخستلو دآزموینی اصول تا سو با ندی تطبیق شی په سـاده ډول تا سو با ید عملاً کـار ولټوی.

Centrelink په دی پوهیږي چی شاید تاسو دکارکولو لپاره چمتو ونه اوسۍ او شاید هم د کار موندلو او ساتلو لپاره زیاتی مرستې او حمایت ته اړتیا ولرۍ. Centrelink تاسو سره به دغوری او ښی ممکنی لاری د پیژندنی یا تشخیص مرسته وکړي ترڅو چی بیرته تاسو د کارکولو خوا ته بو ځي.

*عیسی نومې په لایبیریا کی ترکاڼ وه، ولی څو کاله دمخی یی ملا خوږ شوه او نشي کولای چی درانه شیان پرته له درد نه اوچت کړي. هغه تشویش کاوه چی دی به بیا هیڅ کله ونشي کولای چی کاروکړي. مگروروسته ددی نه چی د Centrelink سره وغږیده، هغه د ټولنیزکارو یو کورس ولوست چی هغه وکولای شي د خلکو سره په خپل قومی ټولنه کی کاروکړي.*

## دا هیڅ کله وختي نده...

البته په ځینو شـرایطو کی ښا یی د فعا لیتونو د برخی اخستلو آزموینی اصول تا سو باندی تطبیق نه شی. په طـور د مثا ل: که تاسو ډیر ناروغ یا ست، خپلی یوی کوچنې ما شوم او یا لوی فامیل نه پر ستاری کوی، او د هغه بـډا پـر ستاری کوی چی هغه یا معیوب دی او یا نـاروغ.

پـه هــر صــورت دا به هیڅکله ژر نه وی که تاسود خپلی خوښی کار د پاره چی په آینده کی یی غواړی پلان وکړی نو کوم فعا لیتونه به تا سو سره مرسته کوی چی ورته آماده شی. Centrelink به تاسو سره ستا سو د انتخاب په هکله کولی شی خبری وکړی. دا شیان عبارت دی له افتخاری کار نه، ترینینگ او یا دانگلیسی ژبی زده کړه.

*جولیانا فکرکوي چی دا کار نشي کولاي ځکه چی هغه په یواځی ځان د خپلو ماشومانو نه پاملرنه یا سرپرستي کوي د هغی انگریزي ژبه هم ډیره ښه نده او دهغی تنکی زوی په ښونځي کی دی. اما کله چی زوی څلورکلن شوؤ، هغی د انگریزي ژبی یوی ډلی سره یو ځای شوه اود ښونځي په کانتین کی یی د مرستندوی په نامه کار پیل کړ. هلته هغی یوه دوسته پیداکړه چی پرستاره یا نرسه وه او دا هغه څه وه چی دی غوښتل په راتلونکی کی کله چی زوی یی په ښونځي کی شامل شي ولولي.*

## آیا تاسو په نژدی کی آسترالیا ته د پناه غوښتونکي په توگه راغلي یاست؟

که تا سو په دی وروستیو کی آسترالیا ته راغلی یا ست، Centrelink توقع نلری چی 13 هفتو پوری تا سو د کار لټه وکړی. سنترلنک تاسو ته وخت درکوی چی ځان آماده ، خپلی کورنـی چاری سمبالی او د آسترلیا په ژوند ځان پوهه کړی. پس له دغی مودی تا سو به Employment Services Provider ته معرفی کیږی چی تا سو سره ه د کار په موندلو مرسته کوی.

شمسـو مجبوره نه وُه چی په آسترا لیا کی د خپلی لمړیو 13 هفتو کی دکار لټه وکړی. پس له دغی مودی نه Centrelink د ی به انگریزی زده کړی ته ولیږی ترڅو دده د کار موندلو چا نس ډ یر شی. همدا راز دی به Employment Services Provider ته معرفی شی چی د نیمه وخته کار موندلو په هـکله ورسره مرسته وشی. دده انگریزی اوس دومره ښه شوی چی د شپی له خوا د باغداری زده کړی کوی او بیا وروسته غواړی چه خپله د با غوانـی کار پیل کړی.





Australian Government

Centrelink
giving you options

## Centrelink څنګه مرسته کوي؟

Centrelink به ستاسو نه يو څه پوښتنې وکړي چې پريکړه وکړي چې آيا د کارکولو لپاره چمتو ياستی يا که نه، يا نورو لمړنيو مرستو ته اړتيا لرئ. ستاسو. په دی صورت کی ستاسوځوابونه د Centrelink سره ستاسو دښو فعاليتونو په پيدا کولو که مرستنودوی شي.

ستا سو چمتووالی کارد پاره Centrelink به تصميم ونيسی. نو په دغه هکله تا سو به يوی Employment Services Provider ته معرفی کړی. نو تا سو به ترينګ، د خپلی مسلک لوړوالی، او ځينی نور منا سبی مرستی ته لاس بری پيدا کړی. Employment Services Provider به استخدام کونکی ته د کار د کمبود په هکله تا سو دروپيژنی.

که تاسو دکارکولو لپاره لا چمتو ونه اوسی Centrelink به تاسو په يوه فعاليت بوخت کړي چې تاسوبه دکارکولو لپاره تيارکړي. دا زياتی مرستی به په لاندی ډول وي هغه هم ستاسو د خاصو اړتياو او حالاتو په پام کی نيولو په شرط:

- د زده کړې اوروزنې مهارتونو کورسونه
- د Language, Literacy and Numeracy programme (ليک لوست او شمير زده کړې پروګرامونه) چې خلکو سره په ليک لوست کی مرسته کوي.
- د انګريزی ژبی کورسونه
- د معيوبو کسانو لپاره د بيا چمتو کيدو يا رغيدو پروګرامونه.

جما ل دخوب او خيال نه ليری شو ځکه دی يوه ږ يره موده بيکا ره وه. نو چې د Centrelink له خوا Employment Services Provider ته معرفی شو او هغه کا ر چې دی غوښته چه وکړی ورسره خبری وشوی. دی د نلدوانی شا ګردی پيل کړ او خپله آينده په کی ځلا نده وليده. دا امکان شته چې دی يوه ورځ به خپله بزنس ولری.

## نوری مرستی

که تاسو کارپيدا کړ شايد د Centrelink نه څه اندازه پيسی هم تر لاسه کړی. د کارکولو په صورت کی به تل هوسا او پيسه داره وه اوسی.

که تاسو د ماشومانو په ساتنی يا پاملرنی باندی بوخت ياستی Centrelink به همدارنګه وتوانيږي چې دماشوم دساتنی په هکله درسره مرسته وکړي. او دماشوم دپاملرنی مرکزونو په هکله درته معلومات برابر کړي

. په ياد ولرئ چې هر هغه
څه چې تاسو ته دکارکولو په اړوند ستونځه را پيدا کوي د Centrelink سره پری خبری وکړئ دوی به د هغو مرستو په هکله چې فراهم دی معلومات درکړي.

## Centrelink ستاسو نه د څه شي توقوع کوي؟

Centrelink ستاسو نه هيله لري چې:

- د Centrelink خپلو ټولو ليدنو يا اپاينتمنټونو او نورو خدمتونو ته چې تاسو استوي ورشئ
- که لازمه وي په فعاله توګه د کار په لټه کی اوسي
- په موا فقه شو يو فعا ليتو نو کی بر خه اخستل.
- د Centrelink د هر هغه ليک او يا غو ښتنی يا هر هغه خدمت چې ته يی ور معرفي کړی يی ځواب وکړئ.

که دغه مقررات تا سو مراعا ت ونکړی، اوهغه پوری څه شی چې تاسو نه غوښتل کيری هغه سرته ونه رسوی ستاسو پيسی به قطع شی.

همدارنګه ضرورت دی چې تاسو Centrelink ته وواياست:

- که مو کار پيداکړ يا ستاسو په حالاتو کی بدلون راغی
- د هرهغه عايد يا پيسو نه چې لاس ته راوړئ.

که داسی ونه کړی شايد پوره درکړای شوی پيسی او د اضافی مصرف سره بيا بيرته ورکړی.

## څه به وشي که تاسو د Centrelink د پريکړې سره موافقه ونلرئ؟

که تاسو د Centrelink د پريکړې نه خوشاله ونه اوسئ، کولای شئ دهغه د بيا کتنی يا غور وغواړئ. په دی معنی چې د Centrelink نه وغواړئ چې په خپلی پريکړې باندی دسره کتنه وکړي. دخپل سيمه ايز Centrelink دفتر سره ورغيبرئ.

دا کار پرته د فيس يا مصرف نه دی.

# د زياتو معلوماتو لپاره...

تاسو کولای شئ:

- **13 1202** Centrelink ته په نمبر ټيلفون وکړئ او دچا سره په پښتو ژبه خبری وکړی.
- د سيمه ايز دفتر نه كه ژباړونكي ته مو اړتيا درلوده وپوښتئ، يو ترجمان به پرته له كوم مصرف تاسو ته فراهم كړي.

د Centrelink سره په پښتو ژبه کی دخبروکولولپاره **13 1202*** نمبر تليفون ته زنګ ووهئ.

همدارنګه ستاسو په ژبه کی معلومات **www.centrelink.gov.au** په ويب سايت کی ميندلای شئ.

** '13' نمبروتليفون ته د آستراليا د هرځاې نه د عادي تليفون خدمت له لارې چې دسيمه ايز تليفون د بيې نه زيات ندې نليفون كولاې شئ (البته د تليفون كولو بيه د تليفون شبكې پورې چې دا خدمت برابروي مربوط دې). تليفون كول '1800' نمبر تليفون ته وړيا دې. د عامه تليفون او موبايل تليفونو نه تليفون كولو بيه به يو څه لوړوي.*